د افغانستان اسلامي جمهوريت جمهوری اسلامی افغانستان

دټولګټو وزارت - وزارت فواید عامه

Islamic Republic of Afghanistan

Ministry of Public Works

رسنيز دفتر

دفتر مطبوعات

شنبه ۱۵ غبرګولي ۱٤۰۰ کال-دوهمه ګڼه - لومړی پاڼه

لار اونيزه - هفته نامه راه

اونيزه لاره


ټولګټو وزارت د سيمه ييز نښلون په برخه کې د جلالتمآب ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني ليدلوری په جديت سره تعقيبوي تر څو افغانستان د سيمه ييز نښلون په مرکز بدل او له دې لارې د هيواد عايداتي او ستراتيژيک ارزښت لوړ شي.



# ټولګټو وزارت د فساد سره د جدي مبارزې لپاره د ورتيا لوړونې عملي او مسلکي کورس پيل کړ



د ټولګټو وزارت رهبري چې له فساد سره کلکې مبارزې ته ژمنه ده او تر دې مهاله يې ګڼې لاسته راوړنې هم درلودلې دي اوس مهال يې د داخلي تفتيش د وړتياوو د پياوړتيا لپاره د عملي او مسلکي لارو چارو د زده کړې کورس پيل کړ.

دا دوه مياشتنی کورس به يوه مياشت د ټولګټو وزارت د تفتيش څانګې د استادانو او دويمه مياشت به د ماليې وزارت د تفتيش د استادانو له خوا پر مخ وړل کيږي.

د کورس پر مهال به ځوانو مفتيشينو او د تفتيش اداري کارکوونکو ته د قوانينو، مقررو او طرزالعملونو د پلي کېدو او هغو لارو چارو ښودنه کيږي چې د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره کارول کيږي تر څو په اغېزناکه توګه د تفتيش پړاونه بشپړکړی شي.

هغوی ته به په دې کورس کې د علمي، حقوقي او تقنيني مسايلو د ور زده کولو تر څنګ په چارو کې د روڼتيا رامنځته کېدو او هېواد پالنې روحيه هم ورکول کيږي تر څو د آبادۍ په موخه غوره تفتيش وکړي.

د ټولګټو وزارت د تفتيش رياست د ۱۳۹۹ کال د تلې مياشتې راهيسې تر دې مهاله ۲۸ قضيې څېړلې چې له مخې يې ۳۷ کسان عدلي او قضايي ارګانونو ته ور پيژندلې.

په يادو کسانو کې د سروې کوونکي له بست څخه نيولې بيا د مديرانو، آمرينو، رييسانو او آن د معين تر کچې کسان شامل دي همدا رنګه په ياده موده کې ۵۳ کسان د افغانستان د ملکي خدمتونو د قانون له مخې تاديب شوي او تر څنګ يې اوس مهال ۳۷ نورې قضيې هم تر څېړنې لاندې لري.

## کار سرک های داخل شهر تالقان تکمیل و آماده بهره برداری است

پروژه اعمار و ساختمان سرک ها توسط وزارت فواید عامه در تالقان، مرکز ولایت تخار برای تأمین امکانات لازم به شهروندان اجرا شد.

این پروژه دارای بیشتر از ۵۲ کیلومتر طول و ۵ تا ۱۳ متر عرض در ساحات مختلف می باشد، کارهای ساختمانی آن به ارزش بیش از ٥٥٤ میلیون افغانی در مناطق مختلف شهر تالقان انجام شده است.

از آنجا که تخار یکی از ولایات سرسبز و دارای منابع آبی فراوان کشور است، با اجرای این پروژه به زیبایی شهر افزوده و مشکلات حمل و نقل ساکنان مناطق مختلف شهر حل شده، اکنون بسیاری از شهروندان نیز از آن بهره مند شده اند.



## په فارياب کې د يو کانګريټي پُل د جوړيدو کار بشپړ شوی او ګټې اخيستنې ته چمتو دی

دغه کانګريټي پُل د ټولګټو وزارت لخوا د فارياب ولايت په مرکز ميمنې ښار کې جوړ شوی، چې اوږدوالی يې ٤٨ متره او سور يې ۱۲.۵ متره دی، چې همهاله پرې په يو وخت دوه موټره تللی شي.

د پُل د جوړيدا ترون د ټولګټو وزارت لخوا د نږدې ۲٤ ميليون افغانيو په ارزښت له يو خصوصي ودانيز شرکت سره شوی دی، چې اوس مهال يې رغنيزې چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته چمتو دی، له ياد پله څخه به ۳۵۰۰ تنه په مستقيم او ۲۱۰۰۰ تنه نور به ترې په غير مستقيم ډول ګټه واخلي.

ددغه پله په جوړيدا سره به د سيمې د خلکو لپاره ښوونيزو او روغتيايي مرکزونو ته لاس رسی اسانه شي او دغه راز به د کرنيزو او توليدي توکو د لېږد راليږ پروسه هم اسانه او چټکه شي.



## کار اعمار و ساختمان سرک در ولسوالی بگرام ولایت پروان ادامه دارد

این سرک کانکریتی دارای ۱,۵ کیلومتر طول می باشد، در قریه قلعه ملک ولسوالی بگرام ولایت پروان تحت ساختمان قرار دارد که تا حال با ۲۰ فیصد پیشرفت، کار آن ادامه دارد.

قرار داد ساختمان این پروژه به ارزش بیشتر از ۱۳ میلیون افغانی میان وزارت فواید عامه و شورای انکشافی قریه مذکور عقد شده، مصارف مالی آن از بودیجه ملی پرداخت می گردد.

با تکمیل شدن کار ساختمان این سرک بشمول قریه قلعه ملک ولسوالی بگرام مشکلات در رفت و آمد باشندگان قریه های همجوار آن نیر حل می گردد، در جریان کار ساختمان این پروژه به طور مستقیم و غیر مستقیم به تعداد ٦٨٥٩ روز کاری برای باشندگان ولسوالی بگرام فراهم شده است.



لار اونیزه - هفته نامه راه

لار اونیزه

لار جوړونه ثواب، خو ورانولي يې ګناه او عذاب دی.



# د ټولګټو وزير د پکتيا د ولسونو سره د سړکونو په برخه کې د ستونزو د حل په موخه وکتل



د ټولګټو وزارت وزیر انجنیر نجیب الله یمین د پکتیا د قومي مخورو او يو شمېر ځوانانو سره په داسې حال کې وکتل چې د وزارت تخنیکي مرستیال عبدالقیوم ځاځي او په ملي شورا کې د پکتیا د خلکو استازو هم شتون درلود په پیل کې راغلیو مخورو د یاد ولایت د جانیخېلو، څمکنیو او ورته نورو ولسوالیو د سړکونو د رغونې او بیارغونې په موخه خپلې شته ستونزې، غوښتنې او وړاندیزونه د حل په موخه د ټولګټو له وزیر سره شریک کړل.

د ټولګټو وزیر انجنیر نجیب الله یمین د پکتیا د مخورو سره د کتنې پر مهال د دوی غوښتنې او وړاندیزونه پر ځای وبلل او له خپله اړخه یې د هر راز همکاریو ډاډ ورکړ.

نوموړي وویل، د پکتیا ولایت د ګردیز ښار حلقوي سړک، د جانیخېلو ولسوالۍ څخه د څمکنیو تر ولسوالۍ پورې د سړکونو رغیدا چې د سیمې د خلکو اساسي غوښتنه دی، ټول لومړني او تخنیکي کارونه یې بشپړ شوي، چې وروسته له دې به وربانديې کار هم پیل شي.

په همدې حال کې د ټولګټو وزیر وویل: په پلان کې دی چې د کابل له خاکي جبار څخه د لوګر تر ازرې او په همدې مسیر به د پکتیا له ځاځي اریوب څخه تر ترې منګل پورې په نژدې راتلونکي کې د نوي رغیدونکي سړک په موخه د سروې او ډیزاین چارې پیل شي او وروسته به یې د رغیدا په پار کوټلي ګامونه هم واخیستل شي.

په ورته مهال د ټولګټو وزیر د پکتیا ولایت د ځاځي اریوب سیمه د طبعي ښکلا په درلودلو سره مهمه وبلله او هغې سیمې ته یې د سړکونو د رغیدا په برخه کې د منظم پلان د جوړیدا په موخه اړونده مسوولینو ته لازمي لارښوونې وکړې.

دغه راز د ټولګټو وزیر د پکتیا د ولسونو سره د لیدنې پر مهال له دوی وغوښتل، چې د سړکونو د رغونې، ساتنې او څارنې په برخه کې تل پاتې همکاري وکړي.

په دې غونډه کې د پکتیا ولسونو د ټولګټو د وزیر انجنیر نجیب الله یمین له هڅو او همکاریو مننه وکړه او هم یې ترې یاد ولایت ته د لا زیاتې پاملرنې او همکارۍ هیله وکړه.



## ساختمان لات دوم سرک مهترلام – بادپخ تا کنون ٤٨ فیصد پیشرفت کاری دارد

این سرک از مرکز مهترلام آغاز الی ولسوالی بادپخ ولایت لغمان امتداد می یابد، ٢٤ کیلومتر طول و ٦ متر عرض دارد، به قیمت بیشتر از ٤٨٨ میلیون افغانی با یک شرکت ساختمانی خصوصی قرار داد گردیده و تا کنون ٤٨ فیصد پیشرفت کاری دارد که از سوی حکومت افغانستان تمویل می گردد.

پروژه متذکره از اهمیت خاص اجتماعی برخوردار می باشد، در جریان کار برای تعدادی از باشندگان مسیر سرک شغل ایجاد نموده که با تکمیل شدن آن بهبود در عرضهٔ خدمات شهری، معارف، صحت و وضعیت محیط زیستی بوجود میاید.



## د کابل په میربچه کوټ ولسوالۍ کې د یوه سړک رغنیزکار ٦١ سلنه بشپړ شوی

دا کانګریټي سړک چې ٢,٥١ کیلومتره اوږدوالی لري، د کابل ـ پروان له عمومي سړک څخه پیل او د دې ولسوالۍ تر بالا آب کلي پورې غځیدلی، چې اوس مهال یې رغنیزې چارې له ٦٠ سلنه کاري پرمختګ سره دوام لري.

د یاده پروژې د جوړیدا تړون د څه باندې ١٠ میلیونه افغانیو په ارزښت د ټولګټو وزارت له لوري له یوې سیمه ییزې شورا سره شوی، چې مالي لګښت یې د هېواد له ملي بودیجې څخه ورکول کېږي.

د دې پروژې د رغنیز کار له بشپړیدو سره به د میربچه کوټ ولسوالۍ د بالا آب کلي په ګډون د سړک اړوند کلیو د اوسېدونکو د تګ راتګ ستونزې هوارې شي همدانګه به د دې پروژې د رغنیز کار په جریان کې د میربچه کوټ ولسوالۍ اوسېدونکو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول ٣٨٨٦ کاري ورځې رامنځته شي.

لار اونیزه - هفته نامه راه



تولګټو وزارت د سیمه ییز نښلون په برخه کې د جلالتمآب ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني لیدلوری په جدیت سره تعقیبوي تر څو افغانستان د سیمه ییز نښلون په مرکز بدل او له دې لارې د هیواد عایداتي او ستراتیژیک ارزښت لوړ شي.

## سرک ها سرمایه يې ملي و حفظ و مراقبت آن وجيبه ملي است

با رانندگانی که اضافه تر از وزن مجاز بار می نمایند برخورد قانونی می شود

وزارت فوایدعامه متعهد بر حفظ و مراقبت از سرک ها و نظارت از وسایط باربری بلند تناژ بوده، بار اضافه وسایط باربری که باعث تخریب سرکها می شود را تخلیه و با رانندگان وسایط مطابق مقرره کنترول وزن و ابعاد وسایط نقلیه باربری بلند تناژ برخورد می نماید.

سرک ها متعلق به مردم بوده، حفظ و مراقبت آن وظیفه هر شهروند کشور می باشد، وزارت فوایدعامه از تمام رانندگان وسایط باربری می خواهد که اضافه تر از اندازه معین بار ننمایند تا سرک ها که جزء سرمایه ملی است حفظ گردد.



## د جلال آباد ښار دننه سړکونو رغنيز کار بشپړ او په نږدې ورځو کې به ګټې اخستنې ته وسپارل شي

دا سړکونه چې ۹,۳۷۲ کلیلومتره اوږدوالی لري، د جلال آباد ښار دننه په څلورو بیلابیلو برخو کې جوړ شوي چې لومړۍ برخه یې د فارم هډې - کرییز سړک، دویمه برخه یې په توحید مېنه کې، دریمه برخه یې په لسمه ویاله او څلورمه برخه یې په اکمالاتي بیس سیمه کې موقعیت لري، چې اوس مهال یې رغنیزې چارې بشپړې شوې خو یوازې د سړک نښې یې پاته دي چې هغه به هم په نږدې ورځو کې بشپړې شي.

دا پروژه د څه باندې ۱۲۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ټولګټو وزارت له لوري له یوه خصوصي ودانیز شرکت سره تړون شوي چې مالي لګښت یې د هیواد له ملي بودیجې څخه ورکول شوی.

له دې سړک څخه به د جلا آباد ښار د فارم هډې، توحید مېنې، لسمې ويالې او اکمالاتي بیس سیمو د اوسېدونکو ترانسپورتي ستونزې هوارې او د چاپېریال د پاکوالي تر څنګ به ښاري ګڼه ګوڼه ورسره کمه شي.



## کار ساختمان سرک کانکریتی در ولسوالی حصه دوم ولایت کاپیسا ۹۰ فیصد پیشرفت کاری دارد

این سرک کانکریتی که ۲,٦ کیلومتر طول دارد، از قریه مراد خواجه ولسوالی الی قریه چهار آسیاب ولسوالی حصه دوم ولایت کاپیسا امتداد دارد، کار ساختمان این سرک تا حال ۹۰ فیصد تکمیل گردیده است.

قرارداد ساختمان این سرک از طرف وزارت فواید عامه با دو شورای محلی عقد شده، که هزینه آن از بودیجه ملی کشور تمویل می گردد.

با تکمیل شدن کار این پروژه مشکلات در رفت و آمد باشندگان قریه های مراد خواجه، چهار آسیاب و شماری قریه های دیگر در مسیر این سرک حل می شود. در جریان کار های ساختمانی این پروژه بطور مستقیم و غیر مستقیم برای ساکنان محلی به تعداد ٤٤٤ روز کاری مهیا شده است.



## د کونړ – نورستان سړک په څو پړاوونو کې رغیږي

د کونړ - نورستان سړک له چپې درې ولسوالی څخه پیل او د نورستان ولایت تر پارون ښار پورې غځیږي چې ټول ټال ۱۰۷ کیلو متره اوږدوالی لري او رغنیزې چارې یې په څو پړاوونو کې تر سره کیږي.

د دې سړک ۲۲ کیلو متره برخه اوس مهال په نورستان ولایت کې تر کار لاندې ده چې پر دوو برخو وېشل شوې؛ لومړۍ برخه یې ۱۱,۷ کیلو متره اوږدوالی لري چې د مهال یې چارې ۵٦ سلنه پرمخ تللې او دویمه برخه یې د ۱۰ اعشاریه ۳ کیلو متره اوږدوالي په درلودلو سره ۲٦ سلنه کاري پرمختګ لري.



د دې سړک د پاته ٦۲ کیلو متره برخې ډیزاین هم بشپړ شوی او د تدارکاتي پړاوونو د ترسره کولو په موخه د ټولګټو وزارت له خوا د تدارکاتو ملي اداري ته استول شوي دي.

د یاد سړک ۲۳ کیلومتره برخه چې وړاندې جوړه شوې وه اوس مهال د ټولګټو وزارت په ترمیماتي پلان کې ده چې چارې به یې په نږدې وخت کې پیل شي.

نورستان چې یو غرنی ولایت دی، وړاندې یې د سړک جوړېدو ته پام نه و شوی او نه یې هم په اساسي ډول جوړ شوی سړک درلود خو ټولګټو وزارت اوس مهال د لومړي ځل لپاره د ولسونو د هوساینې لپاره دغه ملي پارک (نورستان ولایت) ته ورغځېدلې لار په اساسي ډول ورغوي چې په بشپړېدو سره به یې د نورستان خلک له ګڼو اسانتیاوو څخه برخمن شي.



## اسفالت ریزی سرک هرات – چشت شریف آغاز شده و به سرعت ادامه دارد

اسفالت ریزی سرک هرات – چشت شریف آغاز شده و به سرعت ادامه دارد، در دو روز گذشته ۷۵۰ متر سرک اسفالت شده که برای هر روز ۵۰۰ متر پلان شده و اسفالت می شود.

بخش اول سرک هرات – چشت شریف ۳۵ کیلومتر طول دارد و به قیمت بیشتر از ۲۳ میلیون دالر امریکایی میان وزارت فوایدعامه و یک شرکت ساختمانی قرارداد گردیده است.

سرک هرات - چشت بخشی از دهلیز شرق- غرب است که کار اسفالت ریزی آن آغاز شده است.

تکمیل این پروژه مهم و حیاتی باعث انکشاف و پیشرفت ولسوالی های شرق ولایت هرات شده و در انتقال سنگ مرمر ولسوالی چشت شریف نقش اساسی دارد.

لار اونیزه - هفته نامه راه
لار اونیزه
لاراه هفته نامه

سړکونه د ولسونو ترمنځ د اتصال کړۍ
او د اقتصادي ودې بنسټیزه سرچینه ده.



# وزیر فواید عامه: کودک امروز رهبر فردا



از روز جهانی کودک در کودکستان محل کار وزارت فواید عامه تجلیل به عمل آمد

وزیر فواید عامه به مناسبت روز جهانی کودک، این روز را به تمام مادران، پدران، اعضای خانواده ها و تمام کودکان مبارکی گفته، اهمیت کودکان و ارزش دادن به آنها را مهم خواهد.

آقای یمین، به مناسبت این روز علاوه دادن شماری از تحایف برای کودکان، کتاب سید جمال الدین افغان را نیز برای شان هدیه داد و از مادران و پدران خواست شخصیت های تاریخی افغانستان را برای اطفال شان معرفی و فرزندان شان را به گونه‌ی تربیت نمایند تا در آینده راه آنها را تعقیب نمایند.

وزیر فواید عامه در جریان صحبت هایش افزود: پرورش سالم کودکان؛ آینده بهتر کشور را تضمین میکند که باید به آنها توجه خاص شود. وی به مسوولین کودکستان هدایت داد، در قسمت صحت و آموزش علم برای کودکان بیشتر از هر چیزی دیگر توجه داشته باشند تا از تاریخ و مشاهیر گذشته خود آگاه باشند.

قابل یاد آوریست، یک مکان منظم در وزارت فوایدعامه جهت آموزش و پرورش کودکان وجود دارد که عملاً کودکان توسط استادان آموزش داده می شوند.

## د ټولګټو وزیر د ځمکني ټرانسپورټ د مسوولینو غوښتنې او وړاندیزونه واوریدل

د ټولګټو وزارت وزیر انجنیر نجیب الله یمین په خپل کاري دفتر کې د ځمکني ټرانسپورټ له یو شمېر مسوولینو سره په داسې حال کې وکتل چې د وزارت د څار او ساتنې مرستیال پوهنیار پاینده محمد انوري او یو شمېر نورو مسوولینو هم شتون درلود.

په پیل کې د احمدشاه ابدالي شرکت مشر حاجي احمدالله ډاکټر د هېواد د لویو لارو په لړ کې د خصوصي شرکتونو پر وړاندې د شته ستونزو په موخه خپلې غوښتنې او وړاندیزونه ټولګټو وزیر ته د حل په موخه وړاندې کړې او هم یې په دې وروستیو کې د ناغیړۍ او فساد په تور د لویو لارو له تلو د یو شمېر کارکوونکو په ګوښه او لرې کیدو خوښې څرګنده کړه اودغه راز یې د ټولګټو وزیر ته د ځمکني ټرانسپورټ په استازولۍ له خپله اړخه د سړکونو د څار او ساتنې په برخه کې د تلپاتې همکاریو ډاډ ورکړ.

د ټولګټو وزیر انجنیر نجیب الله یمین د دوی له خبرو وروسته له دوی وغوښتل، چې د هېواد د شته سړکونو ساتنې ته ځانګړې پاملرنه وکړي او د شته مقررې مطابق ټاکل شوي وزنونه وټاکي، څو د افغانستان سړکونه خوندي پاتې شي.

په همدې حال کې د ټولګټو وزیر د خپلو خبرو پر مهال څرګنده کړه، چې د ټولګټو وزارت له سترو موخو څخه یو هم د فساد پر وړاندې جدي مبارزه ده، چې د وزارت د اوسنۍ رهبرۍ لخوا یې پر وړاندې کوټلي ګامونه اخیستل شوي دي.

داپه داسې حال کې دی چې دا لړۍ لا تردې دمه دوام هم لري.



### وزیر فوایدعامه با اعضای شورای جوانان ولایت لوگر  دیدار نمود

انجنیر نجیب الله یمین وزیر فواید عامه با جوانان ولایت لوگر دیدار نموده، خواست ها و پیشنهاد های شان را جهت اعمار و ساختمان سرک ها استماع نمود.

نخست عبدالباقی رشید رییس و اعضای شورای مذکور، کار های زیربنایی، اصلاحات اخیر، پیشرفت های کاری و کوشش مخلصانه وزیر فوایدعامه را جهت آبادی کشور قابل قدر دانستند و برای وی آرزوی موفقیت کردند.

در این دیدار، اعضای شورای جوانان، پیشنهاد اعمار و ساختمان سرک حلقوی پل علم، سرک های ولسوالی های خروار، چرخ، ازره، زرغون شهر و بعضی مناطق دیگر را با وزیر فواید عامه شریک نمودند.

وزیر فواید عامه بعد از استماع پیشنهاد های جوانان ولایت لوگر، خواست های آنان را بجا دانسته گفت: سرک ها سرمایه ملی است و در حفظ و مراقبت آن هر افغان باید توجه خاص نمایند.

انجنیر نجیب الله یمین وزیر فواید عامه، اعمار و ساختمان  پروژه های بزرگ، دهلیز های اقتصادی و سرک های ملی را از اولویت های کاری خویش یاد نموده، برای اعضای شورای جوانان ولایت لوگر اطمینان داد به خواست های آنها توجه خاص می شود و در آینده نزدیک گام های عملی در قسمت تطبیق پروژه های متذکره برداشته می شود .